# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد

همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Vanguard Woman | زن پیشتاز |
|---|---|


ژباړه: فرهاد وياړ
۰۴ مارچ ۲۰۱۶

## د بنځو سور پوځ

**اتمه برخه**



په همدې وخت کې جونګ هوا او قوماندان راغلل چې نان باتيان ونيسي، سرتيري وويل: هغه دننه کوټه کې تشناب ته تللی. جونګ هوا کله چې دننه لاړه، وی لیدل چې د تهکاوی لاره خلاصه ده او نان باتيان په کوټه کې نشته.



جونګ هوا فورا په تهکاوی کې دوه ډزې وکړئ. بیا یې تهکاوی ته ودانګلی او د نان باتيان په لټه کې شوه.



نان باتیان د تهکاوئ له لارې بهر ته ووت او د غره لورې ته وتښتید، د **هوانګ چین شان** د غلاو او مزدورانو دوه تنه سر ډلي چې کلي ته راغلي وو، په نان باتیان یې سترګې ولګیدلی چې په بد حالت کې و.



هغوې دواړه د نان باتیان خوا ته راورسیدل، له ویرې یې ساه ګاني بندې شوی وی، هوانګ چین شان چې ولیدل چې سرتیري د هغوې په لټه کې دي، ژر یې څو ډزې وکړئ، بیا یې مزدور، نان باتیان په غیره کې ونیو او غر ته یې بوتو.



جونګ هوا دومره د دښمن د دستګیرئ په فکر کې ډوب شوی وه چې اډو یې احساس ونکړه چې په مردکي ټپي شوی ده.



قوماندانه کله چې له شا نه راغله، جونګ هوا يې وليده چې ټپي شوی او پر ځمکه وليدلی، هغه يې جګه کړه او په ځنګل کې يې ونيوله.



جونګ هوا يې روغتون ته ورسوله، د سره پوځ ډاکټر هغه عمليات کړه. له عمليات وروسته، هون چانګ چنګ يې پوښتنې لپاره روغتون ته راغی او ترې وپوښتل:« حال او احوال دې څنګه دی؟» جونګ هوا ځواب ورکړ:«درد لرم، خو د زميندار له قمچينې ښه دی.»



له څو ورځو وروسته چې د جونګ هوا حال ښه شو، هونچانګ چنګ په خوشاله سره راغی او په هيواد کې د انقلابي وضعيت د بيا پراختيا څخه وغږيد. د دې خبرو په اوريدو جونګ هوا خوشاله شوه، خو دومره ډيره نه، په فکر کې ډوبه شوه:«کاش زه ژر ښه شم او په دې مبارزه کې ګډون وکړم.»



د څو ورځو په تیریدو سره جونګ هوا روغه شوه. په دې موده کې هغه ډیر کتابونه ولوستل او د انقلاب په هکله یې داسې ډیرې خبرې یادې کړې چې مخکې ورباندې نه پوهیده.



جونګ هوا له روغتون څخه رخصتیدله چې په لاره کې هونچانګ چنګ ولیده. هغه بیا غوښتنه و کړه چې په خپله ښار ته ولاړه شي او د نان باتیان سر له تن څخه جلا کړي. هونچانګ چنګ له ډیر فکر وروسته وویل:«که را دې نه وړې، نو بیا؟» جونګ هوا ځواب ورکړ:« نو بیا زما سر د قربانۍ لپاره چمتو دی.»



هون چانګ چنګ د دې خبرې په اوریدو سره فکر وکړ چې څنګه هغه پوه کړي. بالاخره هغه څنګه پوه کړي چې د مبارزې لپاره باید د ولس په ځواک ډډه ووهو. له ډیر فکر وروسته هغوې د یلین کلي ته ورننوتل او د نان باتیان کور ته چې اوس د ولس د سیاسي ځواک اداره وه، ورسیدل.



هونچانګ چنګ دفتر ته له ننوتل وروسته قصدي وپوښتل:« ویلی شئ چي په نقشه کي د  هائی نان ټاپو چیری ده؟»

جونګ هوا ډیر کوښښ وکړ خو بریالی نشوه. بیا هونچانګ چنګ هغه ته وښوده. جونګ هوا اوږده ساه وویستله او وی وویل:«څومره کوچنی ده!»



هونچانګ چنګ وویل:«په نقشه کي زمونږ د سیمي کوچنی برخه هم نه لیدل کیږي، زمونږ هیواد څومره لوي دی! ته فکر وکړه چي د یو تن په میرانی سره د دې لوي هیواد ژغورنه شوني ده؟»

جونګ هوا د دې خبرې په مانا پوه شوه او په مسکا یې وویل:«تاسو د نورو په پوهولو کې ستر ځواک لرئ.»



جونګ هوا فکر وکړ چي هونچانګ چنګ یو دانشمند دی او وې پوښتل:«تاسو څومره زده کړی کړي دي؟»

هونچانګ چنګ  وویل:«په ماشومتوب کي مي د پلار د لاس سپکولو لپاره کار کوو. د کینتن د اتحادیي په مرسته مي ښوونځی ولوست، بیا مرتجعینو اتحادیه وتړله او پلار یې راته د **چو** سیند کې ډوب کړ...»



له هغه ځايه چې د هائی نان ټاپو په ژبه پوهيدلم، دې چارې راسره  له کينتن څخه په تيښته کې مرسته وکړه. سرتيری جونګ هوا! د خپل غچ اخيستلو او د تيرې خونړی ټولنې د ړنګولو لپاره مونږ بايد پر ولس او خپلې طبقې ايمان ولرو!» د هونچانګ چنګ هر خبره د جونګ هوا په ماغزو کې ځای نيو.